مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویگ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۳/۲۷

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
### (څلوروشتمه برخه)

## عبدالهادي داوي پریشان

کاکړ. په ۱۸۹۴ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د کندهار د داوي د قبیلې د عبدالاحدی زوی چې په کندهار کې طبیب وو او په ۱۸۹۴ز کال کې کابل ته راکډه سو. په ۱۹۱۲ز کال کې د حبیبیې د لیسې له لومړۍ دورې څخه فارغ سو. په ۱۹۱۲ز کال کې د «سراج الاخبار»[1] مرستیال محرر او په ۱۹۲۰ز کال کې د «امانِ افغاني»[2] محرر. خپل اشعار ئې د «پریشان» په مستعار نوم خپرول. په ۱۹۱۸ز کال کې د امیر حبیب الله خان پر ضد د یوې کودتا له هڅې وروسته زنداني سو. په ۱۹۱۹ز کال کې د باندنیو چارو د وزیر مرستیال او د هندوستان د چارو قنسل. د ۱۹۱۹ز کال د جون په میاشت کې په راولپنډۍ کې د افغان سولې د پلاوي غړی وو. په ۱۹۲۰ز کال کې د میسوري په کنفرانس کې د افغان پلاوي غړی. په ۱۹۲۲ز کال کې بخارا ته افغان استازی. د ۱۹۲۲ز کال د جولای په میاشت کې کابل ته راستون سو او د باندنیو چارو په وزارت کې ئې خپل کارونه بیرته پیل کړل. د ۱۹۲۲ز کال د جنورۍ په میاشت کې د لندن سفیر مقرر سو. د ۱۹۲۴ز کال د آګست په میاشت کې له خپل دغه دریځ څخه لیري سو. له راستنیدلو وروسته په ۱۹۲۵ز کال کې د سوداګریزو چارو د وزیر په توګه وټاکل سو. په ۱۹۲۸ز کال کې د دریو میاشتو لپاره د روس – افغان د سوداګرۍ د خبرو اترو په اړه روسیې ته لاړ. په ۱۹۲۸ز کال کې د امان الله خان له ریفورمونو سره د عدم موافقت له کبله له خپلې دندې مستعفی سو. د ۱۹۲۹ز کال د مي په میاشت کې په کندهار کې له امان الله خان سره یو ځای سو د ۱۹۲۹ز کال د نوامبر تر میاشتې په پورې په کراچۍ کې مېشت سو. د ۱۹۲۹ز کال د دسمبر په میاشت کې په برلین کې افغان سفیر سو. د ۱۹۳۱ز کال د مارچ په میاشت کې مستعفي سو. د ۱۹۳۲ز کال د مي په میاشت کې بېرته کابل ته راستون سو. د ۱۹۳۳ز کال په دسمبر کې د محمد هاشم خان له پلوه زنداني سو او د ۱۹۴۶ز کال پورې په زندان کې وو. په ۱۹۵۰ز کال کې د ملي شورى د غړي په توګه انتخاب سو/ وټاکل سو او د ملي شورى ویاند سو. په ۱۹۵۰ز کال د اعلیحضرت ظاهر شاه د سلطنتي دارالانشاء سرمنشي او د شهزاده احمد شاه شخصي استاد وګومارل سو. له ۱۹۵۲ تر ۱۹۵۴ز کال پورې د قاهرې سفیر، له ۱۹۵۴ تر ۱۹۵۸ز کال پورې د جاکارتا سفیر. د

[1] - Siraj-ul-Akhbar
[2] - Aman-i-Afghan


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

۱۹۵۵ز کال د اپریل په میاشت کې د باندونګ کنفرانس ته د افغان پلاوي غړی. له ۱۹۶۶ تر ۱۹۷۳ز کال پورې منتخب سناتور او د سنا د مجلس رئیس. له سیاسي اړخه فعال نهٔ وو. مورنۍ ژبه ئې پښتو ده خو ددري ژبې شاعر دئ. په ۱۷ ټوکونو کې لیکل سوي خاطرات ئې لا تر اوسه نهٔ دي چاپ سوي. په ۱۹۸۲ز کال کې وفات سو.

## فدا محمد دهنشین

ویل کـېږي چې پرچمی دئ. د ۱۹۷۸ز کال تر جولای پورې د بلخ والي. د انقلابي شورى او د مرکزي کمیټې غړی. په ۱۹۸۰ز کال کې د مرکزي کمیټې د تبلیغ او ترویج او نشراتو رئیس.

## حاجي محمد سرور دهقان

د محمد اعظم زوی په ۱۹۰۴ز کال کې د کابل د دهٔ بوري په کلي کې زېږېدلی دئ. دی یو مشهور صوفي وو چې د حاجي دهقانِ کابلي په نوم ئې په خپلې شاعرۍ کې شهرت درلود. د اشعارو دیوان ئې په کابل کې چاپ سوی دئ. هېڅ ډول دولتي مقام ئې قبول نهٔ کړ.

## سید محمد دهقان

د بدخشان په جرم کې په یوې پښتني کورنۍ کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۴۸ز کال کې د ولسي جرګې غړی. د شمال د ولایتونو د ډیموکراتیکو استازو رهبر. د۱۹۶۴ز کال د لویې جرګې غړی. د ۱۹۴۰ او ۱۹۶۰ ز لسیزو یو لیبرال. شاعر.

## یازي قلوچ دهقان

د غوایي له پاځون وروسته د مرکزي کمیټې علی البدل غړی.

## احمد کشککي دیوانه

د برهان الدین کشککي پلار چې ملقب په دیوانه وو. په ۱۸۴۹ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. له خپل پلار څخه ئې زده کړې تر لاسه کړې دي. د لوړو تحصیلاتو لپاره هندوستان ته لاړ. لیکوال او شاعر چې په ۱۹۳۴ز کال کې ئې خپل ټول آثار له مړیني مخکې وسوځول.

## دوګان، شهزادګی ناجیه : وګورئ : ناجیه

## جګړن دوست محمد

د دفاع د وزارت د مرکزي څواکونو بولندوی. په ۱۹۸۰ز کال کې د انقلابي شورى غړی او د مرکزي کمیټې علی البدل غړی.

## ډاکټر دوست محمد

د جلال الدین دوست زوی، په ۱۹۳۹ز کال کې په کندهار کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۴ز کال کې د میرویس له ښوونځي او په ۱۹۵۹ز کال د میرویس له لیسې څخه فارغ سوی دئ. له ۱۹۵۹ تر ۱۹۶۰ز کال پورې د میرویس د ښوونځي ښوونکی. په کابل پوهنتون کې ئې اقتصاد ولوست او په ۱۹۶۴ز کال کې فارغ سو. له ۱۹۶۴ تر ۱۹۶۷ز کال پورې د کابل پوهنتون مدرس. په ۱۹۶۸ز کال کې جرمني ته د لوړو تحصیلاتو لپاره لاړ. په ۱۹۷۷ز کال کې ئې د کولن له


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پوهنتون څخه خپله دکتورا تر لاسه کړه. په ۱۹۷۸ز کال کې کابل ته راستون سو. په ۱۹۷۸ز کال د کابل پوهنتون د اقتصاد د پوهنځي پوهنوال.

## شاه محمد دوست

د دوست محمد زوی په ۱۹۲۹ز کال کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۶ز کال کې ئې د حقوقو د پوهنځي ډيپلوم تر لاسه کړ او ويل کېږي چې همدلته له ببرک کارمل سره دوست او ملګری سو. د باندنيو چارو په وزارت کې رسمي مأمور. په ۱۹۵۶ز کال کې د آرشيف د مديريت غړی. په ۱۹۵۶ز کال کې د ملګرو ملتونو فيلو شيپ. په ۱۹۵۷ز کال کې د ملګرو ملتونو د چارو د مديريت غړی. په ۱۹۵۸ز کال کې ږ ميونداول پر مهال په واشنګټن ډي سي کې د افغان سفارت دوهم سکرتر. په ۱۹۶۴ز کال کې ږ ميونداول او اعتمادي پرمهال د پروتوکول د مديريت مدير. په ۱۹۶۵ز کال کې د صدراعظم ميونداول د قلم مخصوص مدير. په ۱۹۷۰ز کال کې په اسلام آباد کې د افغان سفارت لومړی سکرتر. په ۱۹۷۲ز کال کې په پېښور کې افغان قنسل. د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند مخفي غړی. په ۱۹۷۸ز کال کې د باندنيو چارو د وزارت، مرستيال وزير. په ۱۹۸۰ز کال کې د باندنيو چارو وزير. د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند د مرکزي کميټې غړی او د انقلابي شورى غړی. لور ئې د ببرک کارمل ناسکه ورور ته وادۀ سوې ده.

## دُر محمد

د پکتيا والي. دی يو پرچمی وو چې په ۱۹۸۱ز کال کې د حزب اسلامي د غړو له پلوه ووژل سو.

## احمد علي دراني

د حسين علي زوی دئ چې په ۱۸۹۲ز کال کې په لاهور کې زېږېدلی دئ. ږحسين علي : د تيمورشاه دراني له اولادونو څخه دئ او د نادر شاه د مور ورور دئ چې په هندوستان کې ئې په تبعيد کې ژوند کاوۀ.ږ د لاهور د عليګره / عليګهره په پوهنتون کې ئې تحصيلات کړي دي. په ۱۹۳۰ز کال کې د نادر شاه د سلطنت پر مهال کابل ته راستون سو. په ۱۹۳۱ز کال کې د کابل د ادبي ټولني مدير وټاکل سو. د محمد هاشم خان له پلوه له کاره وشړل سو او لاهور ته لاړ ځکه چې هلته په لاهور کې ئې ميراثي جايداد درلود. شاه محمود غازي ورته بېرته کابل ته د راتګ بلنه ورکړه او په ۱۹۴۹ز کال کې په هندوستان کې په ډيلي کې په افغان سفارت کې د کلتوري اتشي په توګه وګومارل سو. له ۱۹۵۱ تر ۱۹۵۳ز کال پورې د راډيو افغانستان رئيس. درانی د هندو- پارسي د دوديز ادبي مکتب پيرو وو چې د همدې مکتب د ليکوال په توګه پېژندل کېدۀ. علامه اقبال، مولانا سيد سليمان نقوي او د برتانوي هند نورو ادبي علماوو ورسره پېژندګلوي درلوده. په ۱۹۳۳ز کال کې ئې د طلايي سردار له لمسی حميدی سره وادۀ وکړ. په ۱۹۵۸ز کال کې په کابل کې وفات او د تيمور شاه په مقبرې کې خاورو ته وسپارل سو.

**دوست** : وګورئ : دوست

## محمد کبير عبرت

د محمد امين زوی په ۱۹۱۷ز کال کې په مزار شريف کې زېږېدلی دئ. خصوصي زده کړې لرې او تر منځني ښوونځي پورې ئې درس لوستی دئ. د سمنګان له خلم څخه د ولسي جرګې غړی. د ولسي جرګې د نهمي او لسمي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

دوري غړی. د خلم ښاروال. د عدليي د وزارت رسمي مأمور. د ماليي د وزارت د اداري تفتيش عمومي مدير. ليکوال او شاعر. د ۱۹۷۳ز کال د جولای په مياشت کي وفات سوی دئ. مورنی ژبه ئي دري ده.

## عبدالله احرار

د محمد صديق خطاب زوی په ۱۸۹۲ز کال کي د هرات په ولايت کي زېږېدلی دئ. شاعر.

**عبدالخالق اخلاص** : وګورئ : اخلاص

## نور بيا

## محمد رحيم الهام

د (عبدالغني د زوي) فضل الدين زوی په ۱۹۳۲ز کال کي...

قدرمنو لوستونکو! د ښاعلی رحمت آريا د آرشيف: لينک


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ